
کابل
2 - JAN 17
Copy 1958
August 24, 1957
د ۱۳۳۶ ش کال د سنبلی (۱) ۱۳۷۷ ق کال د محرم (۸) ۱۹۵۷ ع کال د آگست ۲۴
په دی گنه کښی:
حریت
د افغان برم
هغه عوامل
د یوه اسلامی
یو پښتو شعر
پټی بلاوی
د شاعر خوب
زه لحم
ولولی
پراپسی گنه (۴۳۹)
د آزادی خلی

ښاغلی رشاد قندهاری

حریت

د مجنون ژوندون به څه وی چه لیلا مری؟
څه په کار دی تش کالبد چه زړه دچا مری
زړه ډیوه ده دا د ختو په قالب کښې
خدای ومه کړه چه به دا ډیوه دچا مری
چه مرغه لاړ شی قفس د ماتید و دی
که به زړه مری تش کو گل دی لا پخوا مری
هیڅ ممکن نه دی پا یښت د هغه پېژ ی
زړه چه مری کالبد مجبور دی خامخا مری
(حریت) د هر ملت د بدن زړه دی
که دا نه وو هم ملت مری هم بقا مری
چه د بل دا شاوت په لومه اړ شی
په هغوز ړو کښې غیرت، خو دی، غنا مری

(۲۷ کال) (۹) گڼه

کابل

پښتو ټولنې مصوره

اجتماعي ، ادبي ، او تاريخي مجله

د امتياز خاوند: پښتو ټولنه

د پښتو ټولنې مشر : گل پاچا « الفت »

مسئول مدير م، د، « ژواك »

پته: - کابل: نادر پښتون وات دبل خشتي ديله مقابل دتيلفون لمبر ( )

ښاغلی ثابت تتبع او لیکنه

دافغان برم

په دې مناسبت چه دافغان ملت دخپلواکۍ دتلین ورځی راغلی دی اودافغانستان ټول خلك کوچنی اولوی، نارینه اوښځې ددغوښ اومبارکوورځوپه راتلو زیاته خوشالې کوی، اودپښتانه ملت ښځی اونارینه چه دجهادپه شخړو اود وطن دساتلوپه سرب زیو اوخدمتونو کښی برخه اخلي، نوځکه په دې خوشالیو کښی هم ټول افراد برخه لری اوپر ټولو باندی یورنګه داختر ورځی وی. اودهیواددهغو ایمان دارو او سربازانومجاهدینو دیادونی په مناسبت چه ددې خاورې دخپلواکۍ ګټلو په لاره کښی ئې سرونه ورکړی دی جشنونه کوی او دوطن د استقلال دقهرمانانو په ارواحو د رودونه استوی،

اعلیحضرت محمدظاهرشاه دافغانستان ګران ټولواك اودخپلواکۍ حامی

نو ماو غوښتل چه دافغان قوم دهغه تاریخی او پخوانی برم اوشوکت په باب کښی چه ددوی له ارثی اوفطری حمیت څخه سرچشمه اخلی هم بحث وکړواود پښتانه تبر دتاریخی حقائقو له مخی د ښاغلو لوستونکو حضور ته لږ وډېر څه وړاندی کړو دپښتنودهری دورې تاریخ خورا زیاته څیړنه غواړی اودهری دوری تاریخ یی دومره بیانونه لری چه لوی لوی کتابونه ورڅخه جوړیږی، نه کیږی چه دیوې مقالې په توګه په یو مضمون کښی ځای کړل شی، خوغواړم چه دیوې یوې نمونې په ډول ځینی هغه شیونه دلته ذکر او بیان کړو، چه (دمشت نمونهٔ خروار) په معنا داسی ځینی لنډ بحثونه چه دپښتانه قوم دازاد فطرتۍ له روحیې اوفطری اوارثی شهامت څخه نمایندګی کوی دلته و لیکو:

پاتی په (۱۵) مخ کښی

د کار نفورت برتانوی
فیلسوف له نوی تاریخ څخه

د محمد حسن ګ، کر
لیکنه او ترجمه

هغه عوامل چه اجتماعی انکشافات تاکی

جامعه ځانله انکشافات لری او یه دې ډول له طبیعی پیښو ځینې توپیر پیدا کوی: ددوی دانکشافاتو ترمینځ اساسی توپیر دادی چه تولنه له باشعور وانسانانو څخه جوړه ده او د هغوی ارادی کړه وړه یه تو انه کښې نتیجې راولاړوی. مګر د طبیعت اجزا (له انسانی تولنو څخه غیر) دارازنه دی. یه طبیعت کښې رانده، کانه، او بیشعوره اجزا او موسسې بویه بل عمل کوی، نیوهیبزې چه څه کوی، هدف او غایه هم نه لری، دتولنې حال بل دی اجزائی دشعور او احساس خاوندان دی او دیوه نا کلی مقصدیه لور ارادی کړه وړه لری، لدې کبله عموماً وبل کیږی چه دطبیعت یه څیر دتولنی افاقی اوخارجی قوانینو برسیره کول اوشرګندول امکان نه لری. دلیل دادی چه د طبیعت یه دستګاه کښې تولی پیښې دتا کلو قوانینو له مخې سمې اجراء کیږی. مګر د تولنې حال دارنګه نه دی، دلته چه څه پیښیږی، هغه تول دانسانانو دشعوری او بامقصده کړو له خوا تاکل کیږی.

خو باید وویل شی چه تولنه هم دطبیعت غوندې ځانله قوانین لری، او انکشافات تول دقوانینو له مخې عملی کیږی، دلته اتفاقات ځای نه لری. بلکه آفاقی او خارجی قوانین ددوی منظم دی. هودومره خبره ده چه اجتماعی پیښې دیرې انجړې دی او هر څوک نشی کولی دهغوی یه درك قادرشی. دقیق فکر او ژوره څیړنه یه کار ده چه دغه انتظامات درك کړی او دقانون شکل ورته ورکړی، له ښه مرغه همدغې تولنې داسې مغز ونه راروزلې دی چه زموږ دامشکل راحل کړی او اجتماعی انکشافاتو ته ئې هم علمی رنګ ورکړی او داوهامو او تصوراتو له پنجو څخه ئې خلاص کړی. له همدې کبله ده چه علم الاجتماع نن ورځ بومثبت علم ګرزیدلی دی، او وائی چه:

(۱) علم الاجتماع او مړی هغه شرایط او حالات تر نظر لاندې ونیسی کوم چه دانسانانو دارادی او قصدی اعمالو نتیجی تاکی. انسانان له خپلې خوښې سره سم چه څه غواړی هغه کړی، خو هغه نتیجې چه ددوی له کړو څخه ولاړیږی هغه له اصل مقصد سره فرق لری. دغه کلیه یه یه څو ژوندیو مثالو کښې ښه روښانه کړو: غربیانو اسرائیلو ته دعربانو یه مینځ کښې ځای ورکړ، اوشاید مقصد ئې داوه چه یه دې ډول یه منځنی خا نیز کښې یعنې یه هغه سیمه کښې چه دیوه مذهب، کولتور او خصوصیت افراد ژوند کوی، او به خړې کړی او دځان دپاره یه کښې ماهیان ونیسی. د دې عمل نتیجه

بالاخره داشوه چه یو خودعربانو دملیت خواهی حس د استعمارگرو په مقابل کښې ور بیدار شواوبله داچه ددې سیمې خلك له سوشلستی کامپ سره د واستان شول. (د کشمیراو پښتونستان مسئلې هم له دې جملې څخه دی) بل مثال: دامریکې دمتحده هیوادو حکومت وغوښتل چه په سوشلستی هیوادو په تېره بیا په ولسی چین باندی تجارتی او اقتصادی قیدونه وضع کړی. په دې عمل کښې ئې نور کاپېتلستی اولاس لاندی هیوادونه هم مجبور کړل. مقصد ئې داوه چه که په دې ډول سوشلستی دولتونه په مشکلاتو اخته کړی او دیر مختګ او ترقی مخه ئې ونیسی برخلاف دهر قید په مقابل کښې سوشلستی دولتونه لاهم سره نژدې شول او نتیجه داشوه چه د ګډی همکاری او اندیوالی په اثر سوشلستی دولتونه پرمخ شی او امریکا له یوی خوا له خپلو کاپېتلستی دولتو مثلا له برتانیې سره ورا ن شی او له بلی خوا دننه په هیواد کښې دسرمایه دارانو په فشار اخته شی.

معلومیږی چه دانسانانو دارادی اعمالو نتیجې دافاقی او خارجی قوانینو له خوا تنظیمیږی او دلته دانسانانو اراده اثر نه لری او فقط آفاقی قوانین دی چه دانسانانو افعال اداره کوی او اثر پرې لری

(۲) نننې علم الاجتماع په دوهم ځل هغو شرایطو او حالاتو ته توجه کوی چه دانسانانو په مغز کښې فکرونه او نظرئې قایموی. کله چه انسانان اراده کوی او راز راز مقصدونه تاکی په حقیقت کښې دوی دمحیط په مقابل کښې عکس العمل ښیی. مختلف انسانان بېل بېل مقصدونه لری، او راز راز مقصدونه په بېلو بېلو زمانو او مکانو کښې تشکل کوی. ددې معنی دانه ده چه فردی روحیات یوتربله فرق لری، بلکه د احقیقت موږ ته راښیی چه انسانان په بېلو شرایطو کښې واقع دی او د متغیر وشرایطو له کبله ددوی موقف او مفاد یوتربله فرق لری. همدغه اختلافات دی چه په نهائی تحلیل کښې د مختلفو مقاصدو د تشکل سبب ګرزی، دمثال په ډول زموږ په محلی حکومتو او علاقه دارو کښې که سپاهیان او محصلان یا خپله او یا د آمرانو په حکم دولس وګړی په لرګیو او قمچینو اولغتو وهی او تکوی ئې دالدی کبله نه ده چه سپاهی جنګی طبع لری بلکه لدې سببه دی چه شرایط او حالات ورته موقع برابر وی او دوی مجبور دی چه دهغو په مقابل کښې ځواب ووائی او عکس العمل وښیی. بل مثال: دنړی په نننی حال کښې که د کوم هیواد مشران جنګ ته زړه ښه کوی او دیو بل ملك لویان غواړی سوله اوروغه په نړی کښې قایمه کړی، دالدې کبله نه ده چه دلومړنی هیواد مشران بالفرد جنګیان دی او ددوهم ملك لویان *

له خارجي منابعو څخه : دواسعي اخيستنه

ديوه اسلامي مفكر ويناوي

اسلام نه يوازې تصوفي عقيده ده او نه يوازې فلسفي، بلكه دژوند يوه داسي لارده چه دهغو فطري قوانينو سره مطابقه ده چه څښتن تعالى دخپل مخلوق لپاره سمه كړېده ددي عقيدي لوي كار او ستره اغېزه داده چه په انساني ژوند كي دروحي او مادي جوانبو تر ميانځ بشپړه توافق راولي. داسلام په تعليماتو كښې دا دواړه خواوي دانسان دمادي او معنوي ياجسدي او ادبي ژوند په روزنه او تربيه كښې سره متفق او يولاس دي، او يوله بله تناقض او مخالفت نه سره كوي، مگر ددي دواړو په تلازم كښې اسلام ډير ټينگار كوي ولي چه اسلام روحي او بدني تربيه دواړه دژوند طبيعي بنسټ بولي.

اسلام احزاب نه پيژني، او نه ئي پخپله ټولنه كښې داحزابو او طبقاتو جگړې ليدلي دي خو اروپائي تاريخ ديونان او رومان دمدنيت له عصره څخه په طبقاتي جگړو او په اجتماعي مېرڅېو ډك دي،

مونږ ته لازمه ده چه داخبره بيا بيا وكړو چه دلته يوازي يوشي دي چه په هغه سره مسلمانان كولاي شي چه دهغو شيانو څخه استفاده وكړي چه د غرب څخه ئې زده كړي او اخيستي دي، چه هغه طبيعي او رياضي علوم دي پخپلو تجربيې اشكالو كې.

نن ورځ وضعيت داسي ښكاري لكه نړۍ چه ټوله داروپا او داروپا دمدنيت د پاره پيدا شوي دي، او لكه نور ملل او مدنيتونه چه فقط ددي دپاره وي چه يوازي داروپا د حاشيې او شاؤخوا لمنې ښكلا او زينت په حاصل شي، ددي ذهنيت يوازنۍ اغېزه او تأثير چه

---

*

با لطبع حليم او سوله غوښتونكي دي. ته، شرايط فرق لري. لومړني په جنگ او اړو دوړ كښې خپله گټه وينې او وروستني دبين المللي كشا لو رفع كول خپل مفاد بولي.

يو څه ځېر او دقت بيا داخبره ثابتوي چه دلته هم افاقي قوانين حاكميت لري، يعني نيستي چه (۱) په داسې حال كښې چه هيڅ شي بې له ارادي عمل څخه نه پېښېږي، نتيجې ئې كله كله داسې وي چه له ارادي عمل سره تطابق لري مگر زياتره دارادي عمل په خلاف دي. او (۲) داچه دمجموعي نتايجو په متعلق دانسانانو محركات ثانوي اهميت لري. خو بايد وويل شي چه انساني محركات د مجرد فكر محصول نه دي، بلكه خپله محركات دچارپېر محيط او شرايط وزيږنده ده او څرنگه چه محيط او شرايط فرق لري، نو ځكه انساني محركات هم يو راز نه دي.

داوسنیو غیراروپائی نووزلمیانو به اذهانو کښې پاتیږی عبارت ددوی لدې ذهنیت څخه دی چه دوی ته خپل خصوصی ثقافت نیمګړی ښکاری، او خپل زوړ تأریخ ناقص په نظرور ځی او په مستقبل کښې خپل چانس ډیر تاریك او ضعیف بولی دوی خپل ماضی او مستقبل ته په سپکه سترګه او حقارت ګوری. او ځنی ناامیده وی، مګر هغه مستقبل ته چه دغرب او اوروپا مثل علیا ته تسلیم وی دامید به ډکه سترګه ګوری.

یو مهم شی چه پرمونږ (مسلمانانو) دهغه کشف لازم بلکه واجب دی داخبره ده چه خپل ځانته څرګنده او واضحه کړو چه مسلمانان ولی لوېدلی او کښته پاته دی، او بل دا چه دمسلمانانو داوسنۍ کمزورتیا علت داسلامی تعلیماتو نیمګړتیا نه ده. اسلام هیڅ کله دپرمخ تګ او علم په مخ کښې ندی درېدلی او نی مانع ګرزېدلی دی. اسلام فکری ربړ او کوښښ په انسان کښې دومره تقدیر وی چه دهغه په اثر دانسان مرتبه ترملایکو هم لوړ وی.

یوازی یوشی چه مسلمانان ئی هیله نشی کولای دادی چه ددوی کتنه په غربی سترګو وی، او ایا ځینی تفکر غربی تفکر وی که غواړی چه دوی مسلمانان وی دوی دا هیله نشی کولای چه اسلامی روحی حضارت داروپا یو مادی تجربو باندې ورکی.

تاریخی څېړنی؛ پښتو کوونکی: ق «څرخوال»

لیکوال : محصل

یو پښتو شعر چه (۲۵۰۰) کاله عمر لری۔
آیا پښتو او پخوانی فرس سره خویندی دی؟

دبیستون په کتیبه کښی عیناً یو پښتو شعر دی

څه موده مخکښې می یوه ګټوره مقاله د(قطعه‌ای از بغستان) ترعنوان لاندی دښاغلی پوه ـ دکتور معین له علمی اواد بی څېړ. نو څخه دتهران دپوهنتون په خپرو نو کښې والوستله. ښاغلی لیکوال د پخوانی فرس دری مصرعی چه دبیستون په مشهور ډبرلیك کښې دلوی داریوش له خوا (۵۲۲ ـ ۳۸۶ ق.م) لیکل شوی دی ـ په تحلیلي صورت یې تربحث او کتنی لاندی نیولی، اوثابتوی چه دغه دری مصراعی یو خوږ اخلاقی اوحماسی شعر دی.

کله چه مادغه شعرولوست هېښ پاته شوم، ځکه نو موږی قطعه له لږ څه تحریف سره ننني مروجه اوژوندی پښتوده ـ اوپه دې مقاله کښې به لوستونکو ته روښانه شی چه ددواړو ژبو ترمینځ څومره نژدیوالی موجوددی؟! وڅرنګه دلرغونو کلماتو اودهغوی دوبلو طرز او جمله بندیو ترکیب په دی قطعه کښې چه دوه نیم زره کاله دمخه لیکلی شوی پښتو نه خورانزدی بلکه کټ مټ پښتوده چه یو پښتو ویونکی یې دخپلی ژبی شعر بولی.

پښتو داسی یوه ژبه ده چه نقریبا لس ملیونه و ګړی په هغه ګړېږی اواد بیات یې داسلام ترلمړی بېړی روښانه تاریخ لری.

دبومسلم مروزی دعصر پښتو اشعار موجوددی ـ کله چه د کلماتو مفردات ئې د اوستا، سنسکریت او پخوانی فرس سره مقایسه شی دهغه قدامت لرغونو دورو ته (تراسلام دمخه) رسېږی چه په دی کرښو کښې یې له پخوانی فرس سره مقایسه تر کتنی اوبحث لاندی نیسم.

دمثال په توګه یو توری:

ددې دپاره چه وکولای شو دپښتو نفوذ نورو پخوانیوژبو کښې ثابت کړو د(غر) توری دمثال په توګه ښیو چه کټ مټ په خپله معنی ژوندی دی دغه توری چه دپښتو مال او ملك اودهغوی دغرنی هیواد نوم دی اوپه همدغه سیمه کښې ډېر مشتقات لری یعنی له دی ریښی څخه ئې ډېر کلمات جوړ کړی چه دځایو، قبیلو اودسرکو نومونه دی لکه: غور، غرچه غرچ غرش غرزی، غلجی (خلجی) چه بل شکل ئې (ګر) هم څرنګه چه په اوستا او سنسکریت کښې (ګیری) دی، په جغرافی نومونو کښی دوراڅرګند دی لکه لوګر (لوی غر) شلګر

(شل غر) اتغر (اته غر) شنگر (شین غر) گردیز (غردیس) چه دغه غر یا گر په نورستانی لهجه کښې (گل) شوی لکه دیو گل (ددیوانو غر) نور گل (نورغر) او نور .

دغه (گر) یا (گل) په بابلی او سومری ډبر لیکو کې څلورزره کاله پخوا عراق کښې لیکل شوی او (گر) یا (جر) یا (گل) ئې دغره په معنی او وروسته یی دهیواد په معنی اخستی دی په پهلوی کښې هم گر (غر) او گرشاه (ملك الجبال) دی چه البیرونی په آثار الباقیه (۹۹ ص) ؛ ابن خردابه او دسنی ملوك الارض مؤلف هغه ډیر ځله یاد کړی او دارد شیر بابکان د کارنامو په کتاب کښې هم (گرشاه) یا (جرشاه) راغلی دی چه د طبرستان په تاریخ کښې یې جرشاهیه (معرب اصطلاح) راوړی دی عبری ژبه کښې هم گور چه جمع ئی (گورم) دی دغره معنی ورکوی او همدغه کلمه ده چه په نوموړی غرستان په طبقات ناصری منهاج سراج کښې (غرجستان معرب) راغلی. او مولانا عصامی د سلطان معزالدین غوری دشهادت په بیان کښې وائی: وروسته دهغه له شهادته دده در بار یا نو ملك الجبال ته و لیکل :-

نبشتند قصه پس از شور و شر که ای وارث ملك غزنین و غر

(فتوح السلاطین ۹۹ مخ دآگری چاپ)

اوس ددغو اسنادو له مطالعی څخه څرگندیږی چه د (غر) یا (گر) توری دمدیترانی له څنډو څخه دگنگا آئین پوری پر سامی او آریائی ژبو باندی تاثیر لری او دځایو ډیر نمونه ځنی اشتقاق شوی او دا اصیله پښتو کلمه ده چه تر اوسه ژوندی ده

مقصدته راگرزیدل :

هغه ژبه چه تورو ئی دتاریخ په دورو کښې دومره نفوذ او رواج در لود، شك نشته چه ژوندی ژبه وه. اولیری نه ده چه آثار یی دایران دبیدیاو په لرغونو ډبرلیکو کښې هم موندہ کړو. گرانو لو ستو نکو ته څرگنده ده چه په لرغونو زمانو کښې دپاړسو زړه ژبه یوه مهمه تاریخی ژبه وه چه له هغی ژبی موږته کوم کتاب او اثر نه دی پاتی ارله ټولو ډبر لیکو څخه فقط (۳۰۰) توری میخی لیك په ایران او مصر کښې پاته دی. که دغه جزوی آثار نه وای اصله ژبه به هم له مونږ نه پټه وه.

ددغی ژبی له مفرداتو څخه چه په لاس کښې دی کولای شو چه ددې او پښتو ترمنځ دیوه خورا نژدی اړیکی او تعلق فکرو کړو لکه : دزړې پاړسو (داور که) چه په سانسکریت کښې (دروه) ژبه پښتو کښې هم (دروه) ده، چه مشتقات یی لکه دروهل، دروهنه، دروهونکی دروهلی او نور ډیر دی. همداسی (وسیه) په زړه پاړسو (اشوه) په سنسکریت ار (اسپه)

په پښتو کښې د آس په معنی دی او (پو ترا) په زړه پاړسو کښې (پتره) په سنسکریت په پښتو (پوت) دی او پېسو چه پښتو پسی او پمون کټ مټ د کرګین په معنی په پښتو کښې پمن توری شته پخوانی فرس کښې (مرګه زنه) دچرګوز پېزنتون او دیوی میاشتی نوم دی. په پښتو کښې (مرغه زونه) مستعمل دی. اسفند په زړه پاړسو کښې (وی آخنه) وچه (وی) بی د (بی) او (اخنه) بی د (ساړو) معنی لرله ددی توری لمړی جزء د نفی حرف په پښتو کښې (به) او په سنسکریت کښې (آ) ؤ او ۲۵۰۰ کلن شعر د و هم توك بی یعنی داچه د (ژمی او ساړو) معنی ورکول.

هغه درې مصراعی شعر چه دبغستان په ډبر لیك کښې لیکل شوی، او اخلاقی اړخ لری زه یې پښتو بولم هغه شعر دادی:

لمړی شپږ هیجان مصرع.

Naiy a Rai Kaa ham

دوهمه سپږ هیجان مصرع.

Naiy DRAU Ja na a ham

دریمه شپږ هیجایی مضراع

Naiy ur «a» Kara a ham

پورتنې درې مصرعی چه د دکتور معیین په خبره د پهلوې اریائی ۶ هجایی مصراعو ته ورته دی په پښتو کښې داسی لوستل اکېږی:

(۱) نئی اړیکه اوم (په چامی اړه نه درلوده)

(۲) نئی دروه جنه اوم (له چاسره می دروه نه کوله)

(۳) نئی زور کړه اوم (نه می پرچا خور کاوه)

اوس د کلماتو تحلیل بیل بیل و کوری:

(۱) نئی (نه ئې) چه مخفف ئې (نی) دی، او عبارت دی له (نه) د نفی او انکار حرف چه له (ئی) فاعلی او مفعولی ضمیر سره تړلی شوی دی؛ د (نی) په صورت مخفف یو هجایې حرف ځینی جوړ شوی او دغه (نه ئی) اصلا دوه هجا لری د پښتو ترانو کښې په (نی) یو هجا تخفیفیږی لکه په دغه ترانه کښې:

نې در کوم نه ئې پر پېږ دمه دزړه له داغه می سور ګل ګوره مینه!

چه دلته اول (نی) یو هجا او دوهم (نه ئې) دوه هجا لری.

(۲) اړیکه چه د (دښمن) (اریغ) او (دشمنکام) په معنی ترجمه شوی په پښتو کښې کټ مټ همدغه شکل او مفخمه راء (ړ) مستعمل دی او له هغه څخه ډیری نوری کلمې جوړی شوی، لکه اړه (غرض)

اړ (گرفتار او محتاج) اړیکی (پای بند مانع مضر) اړی، اړون اړتیا (مشکلی احتیاج) چه ټول له یوی ریښی څخه دی او اړیکه د مانع، مضر، مغرض پای بند، مخالف، دښمن معناوی افاده کوی. او دا جامع کلمه چه ډیری معناوی لری اوس هم په پښتو کښی ژوندی ده.

(۲) د دری واړو مصرعو گډی سجعی (اهم) دی چه دغه فعل په پښتو کښی مختلفی لهجی (وهم، وهمه اوم، اومه اوهم) د فارسی د (بودم) معنی لری چه لمړی او دریم یو هجایی او نوری دوه هجایی توری دی، باید وویل شی (ه) د علت حرف دی او د پښتو د خاصی فتحی یعنی څلورم حرکت نماینده دی، چه د فتحی او ضمی ترمینځ ادا کیږی او له خاصو حرکاتو څخه دی چه گمان کیږی په زړه پارسو او اوستا کښی به هم داسی حرکت موجود ؤ او ډیر گمان کیږی چه د پخوانی فرس (آهم) په همدی صوت ادا کیده.

(٤) په دوهمه مصرع کښی د (دروجنه) معنی مترجمانو دروغگو، دروغزن لیکلی ده چه اصل ئی په پښتو کښی اوس (دروه) دی دهغه په آخر کښی (جنه) یا (جن) د پښتو د نسبت ادات دی چه د فریبکار، دغاباز وحیله گر معنی ورکوی او له همدغی ریښی څخه دروهل (فریفتن) دروهنه (فریب) دروهلی (فریب خورده) دروهونکی (فریب دهنده) تر اوسه مستعمل دی

(٥) د (زوره کوه) توری چه دهغه ریښه یی د اوستاد (زواری) او د سنسکریت د (جوس) د پهلوی له (زوار) سره مشترك موندلی دی اوس په پښتو کښی (زور په لمړی فتحی سره د زور (اولی ضمی) له توری څخه بیل یو توری دی او معنی ئی (جفا) (ازار - فشار) زحمت او د قدرت اعمال دی د پښتو په ادبیاتو کښی دغه توری له هغه جور څخه چه د (ستم) او هغه زور څخه چه د (قوت) په معنی دی په شکل او معنی کښی تو پیرلری داسی چه د لمړی حرف له پاسه همزه لیکی او صوت ئی د (زاوج) ترمنځ ادا کیږی په دی دوو بیتو کښی عبدالقادر خټك زور او جور په بیلو معنا وراوړی دی.

نه به ستا دښائست تل وی هسی دور،

نه به زړه وی د عاشق مدام په زور،

چه دا د واړه بقانه لری تیر ېږی

بیهوده هو مره ستم کړی هو مره جور

په لمړی بیت کښی زور په لمړی فتحی د دوهم بیت د جور (ستم) سره چه یوه قافیه لری مگر معنی کښی ئی تو پیر دی چه اول ئی (زحمت او آزار) دوهم ئی جور او ستم دی. دوهم،

جزو د کره کلمه یا کردی چه اوستا کښې هم کر او په پښتو کښې کړ یا کړه په مفخمه را (ړ) مستعمل ی نور کلمات لکه (کړل) کړنه، کړونکی کړی، ځنی وتلی دی او دك په سکون او د (ړ) په زور کی لوستل کېږی او دپاړسو (کردن) معنی لری نو زوره کړه به (آزار دهند ـ ستمگار) وی کره (Karr) چه دوه هجا وشمیرلی شی نو په دی صورت کښې د دریمې مصراعی هجاوی او (۷) دی چه په دې برخه ښاغلی دکتور معیین دیوه هجا زیاتوالی دتسامح او وزنی ضرورت له کبله بولی. حال دا چه دپښتو په تلفظ کښې ځکه چه اول (ك) ساکن دی نو یوه هجا شمیر له کیږي او مصراع بیخی شپږ هجائي دی او دادبی تسامح او تاویل له پاره کوم ځای نه پاته کیږی.

تقطیع او قافیه

په پښتو کښی هم لکه ډیری اریائی ژبی هجا (Syllable) د شعری وزن مدار دی او دهغه ټول شعر ونه او سرودونه پر دغه اساس ولاړ دی او مونږ پوهېږو چه ویدي سرودونه او گاتونه او یو شمیر پهلویات هم په نثر کښې موزونی ټوټی لري همدغه لرغونی ادبی سنت دپاچهانو په کتیبو کښی هم اغیزه کړی او دموزونو اشعارو لطیفی ټوټی پکښی لیکل شوی دی او هم دغه دپخوانو یادگار ادبی سنت دپښتو په سرودونو کښې له ورایه ښکاری چه داشعارو مصرعی دتاکلو هیجاؤو په حساب راوړی مگر قافیه (Rəшʌ) سره له ټولو قیودو او اصولو چه دبلاغت په کتابو کښې راغلی دپښتو په سرودو کښې نه مراعتېږی او ویلای شو چه دغه سرودونه موزونی سجعی دی چه دسجعو تکرار دپخوانی ادبی سنت پر اساس جایز گڼل کېږی دنمونی له پاره دسلیم زمینداوری دغه پاړ کښی کافی دی:

پر تا مین زه خوار وزار یمه. داد هجران په غمو بار یمه.

په سر تور سر یبلی پښی در پسی خوار یمه. جانانه زه پر تا مین یمه.

دمعموله قواعدو له مخی په داسی اشعارو کښې اولی دوهمی او څلورمی مصرعی یو وزن اولس هجاوی لری مگر دریمه مصرعه څلور زیاتی هجاوی لری چه د (یمه) سجعه دهماغه (اهم اوم) له ریښی څخه ده او په څلورو سرو مصرعو کښې راغلی ده او داهغه (اهم) دی چه دبغستان په تاریخی قطعه کښی په دری ادبیاتو کښې همدغسی یوه معروفه او موزونه قطعه شته چه الاغانی نقل کړیده:

آبست ونبیذاست.

عصارات زبیب است.

سمیه‌رو سپیذاست.

یادهروی خواجه‌عبدالله انصاری دغه مسجع بلکه (مقفی) کلمات:

اگربهوا پری مگس باشی.

واگربرآب روی خس باشی.

دل‌بدست آرتا کس باشی.

اوداسی مسجعات دراورسته (٦٠٠) کلورا هسی یه‌پښتو کتابو کښې دیر زیات دی بلکه دادول مسجع لیکل یه‌پښتو لیکوالو کښې یو معمول رسم‌ؤچه دسلیمان ماکو تذکره چه‌یه (٦١٢ھ) کښې لیکلی شوی‌وه اویا دپیر روښان (خرابیان ٩٨٠ھ) کمال اوتردوی ورسته نورهم‌یه دغه سبك داخوندد. وبزه مخزن الاسلام یه‌همدی سبك لیکلی او بیا یه سلها و کتابونه نورهم‌یه‌دغه سبك لیکلی شوی‌دی.

که‌چیری دپارسی دپیداشو ؤآثارو نثری برخی همدارنگه تحلیل اوتجزیه شی یقین دی‌چه‌دیری تیاری‌او ابها مات به دپښتو یه‌مرسته حل‌شی. ځکه‌دژبو نثر دیوالی دو مره زیات‌دی‌چه تمیزاوبیلول ئی بوگران کاردی.

ښاغلی پسرلی

پټی بلاوی خدای پټی ساتی

وائی دپېریانو ستر کی په اوږدو یاله پاسه رابژه دی اوپښې ئې لکه سوکان غونډی منډی دی، نو په دې اساس به ئې خامخا نور جسد هم له وګړیو ګوښی اوځانته وی، ملا صاحب ښه نه دی ورته ځیر شوی که څه چل وی چه ماته ئې د پېریانو نوری نخښی ندی ویلې، داوار که ئې ولیدل ټینګوم به ئې چه پوره حال ئې راته ووائی.

ملا صاحب له پېریانو سره ډېره راشه درشه لری هره ورځ چه څوك دپېریانو په کوټنۍ ختلی وی او دهغو واړه بچی ئې تر پښو لاندی کړی وی ملا صاحب ئې عذر کوی چه دې ړند کۍ په غلطۍ دا کار کړی دی داوار ئې وبخښیء بیا به ماښامی مهال تر تاوی لاندی نه تېر ېږی او نه به بیا په ایرو پل ږدی پېریان هم دملا صاحب خبری ومنی او دده دپخو قصیدو له وېری دده په ویلو عمل وکړی، که ئې نه منی چاره ئې څه؟ ملا صاحب وائې که ئې په سمه ونه منل کوڅر به ئې وسوځوم او په کوزې کی به ئې داسی ایسار کړم چه بیا ئې یادوی او په سړی تجاوز ونه کړی.

کبلۍ ته له څوورځو راهیسی چاویلی وو چه پېریه داره معلومېږی، په دی خبر ډېره پرېشانه وه ځکه چه داخواره دخدای په خدائی کښی له پېریانو وېرېدله، دهغی شپې را په دې خوا چه ئې ددرنو هډوږغ اورېدلی وو دپېریانو وپرونکې څېره به ئې ترستر ګوستر کوکېده کرېږی به ئې کړې مورخواره به ئې په منډه ورغله چه زویه! خیر خودی؟

دې به ورته دپېریانو کیسه وکړه چه ادی! دلته می پېری ولید داسی وواو هاسی وو، دلته می دارنګه ږغ ترغوږ سو، دلته می څرپی واورېدو...

مور به ئې په خونه کښی سپلنی ولوګول، نظر به ئې وروچ کړ، دپېر بابا خور ده به ئې ور کړه، خوددې وېره څه دکمېدوشی نه وه.

دکلی سپین سری ئې وږغولې په هری یوې چه څه تېر شوی ووهغه ئې ورو ښو دل خو چاره ئې ونه شوه.

ملا صاحب دکبلۍ مورته کتاب وکوت معلومه شوه چه دپېریانو دباچازوی ورباندی مین شوی دی او علاج ئې خورا ګران دی، مګر ملا صاحب ترخپل سر او ترخپل اولاد تېرشی ځکه چه خبره عشق او محبت او بیا دپېریانو شاهی کورنۍ ته رسیدلی ده.

کبلۍ اوس په خوب کښی څه چه په ویښه به هم ویرېدله او سوکه، سوکه دشهزاده مینه ورسره دی حد ته رسېدلې وه چه یوه ګنټه به ئې هم نه پرېښوده او ډېر ځله به ئې ورسره په

ښکاره هم ملنډی ویلې، مثلا کبلۍ به ماښامی کوټې ته لویاځی نه تله ویل به ئې چه پېریان می نه پرېږدی کله دوړو ماشومانو په څېر، کله د توری پشۍ په رنګ او کله بل وړځان راښیء.

ملا صاحب هم ویلی وو چه پېریان ډېر وخت د توري پشۍ په وړ ګرزی او کبلۍ ته خولاله وړ کتو به مور ویلی وو چه توری پشۍ ته به څه نه وائې چه پېری نه وی،

د کبلۍ یکی یوه مور د ېسته مجبوره شوه چه کرۍ ورځ په دوو تلو تیره کړی د پیر، پکیر نغری وننګوی او په زیارتونو ډیوی ولګوی، د ماښام پاستی ئې په ویښلی او د جمعی د شپی ویښلې ئې په اوه خواغړی بدل کړو، ډیری شنی څیری ئې د شهیدانو په خازو وتړلې، ډېر څاښتونه، تاویزونه، دودۍ او بندونه ئې له پیرانو، شیخانو، ملنګانو او نورو د خدای له دوستانو ورته راوړل د ملالی غاړه له بندونه ښکاریده او تر پوښ کړیو تاویزو لاندی تلای نشوه، په خونه کی به ئې د سپلنو او بادبر کوشین لوګی وو خو په یوه شی هم ثمرونه شو،

د بر کلی هندو ورته جولاپ او څه نور د ګرمی د علاج دارو برابر کړو خو چه نه کوی حبیب څه به وکړی خوار طبیب؟

په کور کلی کی درنه آوازه شوه، هرچا چه د ملا صاحب په خبرو عقیده در لوده هغو به د کبلۍ خلاصون د پیریانو له لاسه سخته معامله ګڼله او د چا چه بیا لږ ډیر د ښځو په صداقت شك وو یا به لږ څه ملا صاحب ورته مادی ښکار ېدو هغو به یوه زنانه ناغیړۍ بلله.

مورئی دلوی ځوان یوولسمه هم ومنله او د ملا صاحب هر بار ئی په غاړه واخیست.

ملا صاحب په زعفرانو لیکی څاښتونه او پوخ بند ور کړی چه که په دی هم و نشوه توکل په خدای ستا لپاره چه دومره خوی کوې له پیریانو سره په میدان دریږم او کبلۍ په کرښه کینوم.

کبلۍ ډیرو پرهیزو او بل منګی خوراك ورځ په ورځ او به کوله داسی زهیره شوه چه لکه د چرګ بڼکه په پوکی هم الوته، برسیره په دې ئې هم سترګی لکه دوینو پیالی داسی ښکارېدی، تا به ویل چه د پیریانو د شهزاده زړه پکښی او به شوی دی.

له کمزورۍ ئې د نظر لاس ایله چه د بڼو څوکی ته رسیدو او یاد اچه بله لار ئې نه لیده او سترګی ئې د بڼو خوا ته کږی وی او داوږدو بڼو د سانګو سېل ته ئې کتل چه د دی غچ واخلی.

هغه توری سترګی چه یو وخت به ئې د ډیرو زړورو زلمو زړونه نښتیځل او د هغو په وینو به ئې د ښکلا د بڼ ګلونه او بول او هغه لیمه چه د پیریانو د باچازوې ئې د بڼو په

پنجره کی داسی ایسار کړی وو چه له ټوله خدای ور کړی قدرت سره ئې خلاصون گران وو اوس په ځان پوری پکووي او خپل تیر نظر ئې لګه یوه بی وزرو مرغۍ له پنجرو نه شوای الوتای .

له پلاره ور پاته پانګه ئې مورددې دسرلوګی کړه، څوومه میاشت وه چه دلوی ځوان نظر ئې هم په غاړه پاته وو، نه چا دزلمیانو په ټولۍ کی یادوله، نه دپیغلو سره په ورا تله. ستر ګی ئې بې رنجو تورېدی او زړه ئې بی هوسه درېېدو، پایل ئې دوروستی تاویز په شکرانه کی تللی وو هغه غوښن جسد ئی په یوه بې روح اسکلټ بدل شوی او په مخ کی ئې ټکی وینه هم نه وه یا ته خو بیا هم پېریانو لاس نه تری اخیست .

مور به ئې شنه شهیده ورته ناسته وه، څه ئې کړی وای په یوې ښځی د غومره کیږی، دملا صاحب هم تروس ورته تیره شوی وه هغه خوار هم دواړه ائیل خاوند وو، له باچهی سره دچا څه کیږی ؟

بله ورځ جنازی ته وبلل شوو، د کونډی کره ژړا انګولاوه لکه چه ښایستو کی کبلۍ د ښایست په ګناه دمینی قرباتی شوه .

هو، رښتیا کبلۍ پور پری کړی وو دوېرونکی مین له ویری ئې ترخاورو لاندی ځای ونیو، خو چه اوس به مین شهزاده په څه دوړه کی وی؟

د هدیری په سر زغیداوه چاویل، دپیریانو له محبته هم ئې توبه، څوک هم دامنلی شی چه چادی خپله معشوقه له عشقه وژلی وی؟

یوه بل وویل:- ګمان کوم چه دپیریانو محبت هم زمونږ له مینی سره مخالف وی لکه چه ددوی څیری ملا صاحب وائې له مونږ څخه ګوښې دی .

بل وویل:- ممکن چه شاهزاده به کبلۍ له دی امله وژلی وی چه دښاپیر و بازار ئې سوړ کړی وو .

دشاعر دیوان چه مو واړاوو هغه ویلی وو چه :

بازچه وینی دځګر خوری عمر ئې لږوی له دی وینو ځان ساته زما ځګره !

«قادرخان»

حکیم جی ویل: ګرمۍ لاندی کړې وه

چه ډاکتر به لاڅه ویل ؟

ملا صاحب ویل:- پټی بلا دی خدای پټی سانی او خدای دی څوک دپیریانو په ځاله نه ور برابر وی . رښتیا چه له یوی ښایسته پیغلی سره ئې مینه داراز وی دبدۍ اندازه به ئی څوک ولګولای شی ؟

لیکونکی جبران خلیل پښتو کوونکی عبدالعزیز قندهاری

دشاعر خوب

شاعر کله دهسکو غرو په څو کو اوځینی وختونه دسپوږمۍ سره دزړه خواله کوی دده ژوند هم دبلبل دژوند سره څه ناڅه شباهت لری ځکه چه نوموړی هم لکه هغه ویرجن بلبل چه دژمی سړو طوفانو اوتورو تیارو سرغړانده کړی اوله ژوند څخه بیزاره کړی وی دههم خپل ټولی آرزو ګانی په خپل کوچنی ټټر کښی ساتلی وی اوبیا دګله سره دحال په ژبه اظهار کوی اوخپل طوفانی تخیلات چه دنایا به سیند په شان دده په کوچنی زړه کښی څپی وهی دخپل ټټره څخه راباسی او دویرجن بلبل سره خپل پخوانی راز شروع کړی شاعر ځنی وختونه په خپل کوچنی کټ کښی دمینی دردنا که خوبونه وینی چه دهغوی څخه زه دلته دالاندی خوب ګرانو لوستونکو ته وړاندی کوم:

ای ګرانی ...'' کله چه ته سندری وائی ستا زړه وړونکی آواز زماله درده ډك احساسات راپاڅوی او هره نغمه چه ستا دسرو شندو څخه راوزی یو روح بخښونکی داغ لری او کله چه ستا خوږ آواز زما غوږ ته رسیږی نوزما حساس روح ناآرامه او پریشانه کوی که یوه ګړی آه وباسم نو بیرته به پدی مغمومه اوچپه چپتیا کښی پټه خوله شم؟ .هم دومره زما دستومانه روح دپاره بس دی..... که ستاسری شونډی یوه ګړی چپی اوغلی شی زما دزړه مراندی پریکوی اوهغه نری وږمه چه ستا دساه سره راخیژی زما دزړه درباب تارونه غږوی..... ای پی مخی کله چه د فراخواورشوګانو اوځنګلونه اړخ ته تیریږم ته هم دقدرتی ګلانو بوټو اوجګوونو په منځ کښی ګرزی اوپه اورسوی شپنو ته شپلۍ غږوی که څه هم زه تراوسه په دغه اسرار نه پوهیږم چه ستا شپیلۍ ولی په ما کی دومری اثر کړی دی چه دبی ګناه ماشوم په څیر دونو ترشا پټیږم او ستا دشپلۍ نغمو ته سرپرزنګنوایږدم.....'شهی که ددی خیابان ډیوه ئی خوزه ستا دښکارواك نلرم'... ګرانی رشتیا که ته ماددی ونوبوټو اغزیو ترشاه ووینی راڅخه وبه تښتی. . ګرانی که ته خپلې سترګی پټی کړی زه به هم دعشق په سمندر کښی لاهو شم نوویده شه چه زه ویرجنو ژوبلو اوهغو کاروانو ته چه پدی دښت کښی تیریږی شپلۍ وغږوم که زما زاری آه او فریاد پر ستا کلك زړه اثر نه کوی خوبیازه ستا سعادت دپاره ترخپل رښتنی ننګ درتیریږم ګرانی که خپل نرم لاس زما پرخوږنی پرهار ونیسی ښائی چه زما دزړه دردونه او حقیقی رنځ در څرګندشی.

د «افغان برم» مضمون مخ پاتی

په پخوانیو وختونو کښی پښتون ټولواك (مهراب) او دهغه برم:

ترمیلادله مخه او پخوازمانو کښی یو پښتانه ټولواك دهیلمند پرغاړه د (بست) په ښار کښی چه په هغو وختونو کښی دپښتنو دټولواکۍ مرکزؤ، پاچاهی کوله، داټولواك (مهراب) نومید. اوس غواړو چه دهغه او دهغه عصر د پښتنو ځینی احوال چه زمونږ له تاریخی برم څخه نکل او حکایت کوی او دپښتانه قوم له تاریخی مفاخر و څخه ګڼل کیږی ښاغلو لوستونکو ته عرض کړو.

دنوموړی مهراب باچا دنسب سلسله دپښتنی غوری کورنۍ دباچهانو په سلسله کښی دپښتانه ستر ټولواك (سهاك) مشهور په ضحاك ته رسیږی او دهغه دځوځات دلویو لویو ټولواکانو په څنك کښې مقام لری:

لکه چه ستر مورخ فردوسی وایی:

یکی پادشاه بود (مهراب) نام — زبردست و با گنج گسترده کام
ببالا بکردار آزاد سرو — برخ چون بهار و برفتن تذرو
دل بخردان داشت مغز روان — دو کتف یلان و هش مؤبدان
ز «ضحاك» تازی گهر داشتی — ز کابل همه بوم بر داشتی
زدینار و یاقوت و مشك و عبیر — ز دیبای زربفت و خز و حریر
ابا گنج و اسپان آراسته — غلامان و هر گونه ای خواسته

په دغو پورتنیو اشعار و کښی څرګند شوی دی چه دپښتنو نوموړی پاچا چه هغه وخت په بست کښی پاچاؤ، دسهاك له ځوځات څخه ؤ. او څرګند کړی ئې دی چه دکابل له سیمو څخه یی خپل غلیمان لیری کړې، دپښتنو خپلواکې یی په هغه ځای کښی هم تامین کړی وه.

بل ځای پخپله دغه مهراب نومی ټولواك ویلی دی:

زضحاك تازی ست ما را نژاد — بدین پادشاهی نیم سخت شاد
به پیوستگی جان خریدم همی — جز از چاره دیگر ندیدم همی
کنون این سرای نشست من است — همه زابلستان بدست من است

نوموړی مهراب پاچا اظهار کوی چه دی دپښتنو دستر ټولواك (سهاك) مشهور په ضحاك ځوځات او دهغه له نسبه څخه دی. او ښکاره کوی چه زابلستان دده دباچاهۍ عمده او غوره قلمرو دی، که څه هم په دغه عصر کښی دکابل او تخارستان څخه نیولې دفارس تر حدودو پوری داټولی سیمی دده په امپراتورۍ کښی داخلی وی.

نوموړی هغه وخت داوبنا کړی ده چه دماوراءالنهر دپاچاله خوا دوه تنه غښتلی سپه سالاران چه یوئی (شماساس) اوبل بی (خزوران) نومیدا له نوموړی پښتانه تولواك مهراب سره دجګړی په غرض له دیرشو زرو تنو عسکرو سره راغلی وو، نوده په دغه مضمون یولیك هغوی ته دښه پیش آمد اوښه هر کلی په عنوان ورلیږلی وو، اوغوښتل بی چه له هغوسره روغه اوسوله وکړی. لکه چه وروسته به دا موضوع منصله ولیکو.

دمهراب تولواك په عصر کښی یوه پیښه رسیدلی وه اودا پیښه په داسی توګه تمامه شوی ده چه دهغه وخت دپښتنو شهامت اوشجاعت ښه څرګندلو ښکاره کوی اودپښتنو په تاریخ کښی یوه غوره پاڼه ګڼله کیږی.

مورخینو لیکلی دی هغه مهال چه سلطان (مهراب) دپښتونخوا باچاؤ، او دده پایتخت اودسلطنت مرکز دسا کستان (سیستان) په ولایت کښی دهیلمند پرغاړه د(بست) ښارؤ. په دغه وخت کښی دماوراءالنهر دترکانو دیوباچا له خوا دیرش زره عسکر ددوو نفرو په قوماندانی افغانستان ته راولیږل شو ددغو لښکرو قوماندانان یو(شماساس) اوبل بی (خزوران) نومید. دالښکری زموږ دپښتانه باچامهراب سره دجګړی په عزم راغلی وی.

نو کله چه دادوه قوماندانان له خپلو قوی لښکرو سره افغانستان ته داخل شول مستقیما بی دمهراب دپایتخت (بست) پرلوری مارش کړی ؤ دهیلمند سیمونه راغلی ؤ.

کوم وخت چه نوموړی مهراب ددغو زورورو لښکرو په راتګ خبرشو نو بی یوه نامه چه دسولی اوروغی په غوښتلو مشتمله وه ددغه لښکر قوماندانانو شماساس اوخزوران ته واستوله بله نامه بی خپل پهلوان اوغښتلی نائب الحکومه ته چه (زال زر- یاداستان سام) نومید اودسام په نوم هم یادشوی دی، اود کابل دسیمی والی ؤ ورواستوله، اوددغه زورورو اوزبات ترکی نژادی لښکرله راتګ اوخطری څخه ئی اطلاع ورکړه اوپه ډیره بیړه اوتعجیل سره ئی راوغوښت چه له دغو لښکرو سره مقابله اوجګړه وکړی اوخپل هیواد ته نجات ورکړی اودپښتانه تبر آزادی وساتی.

زال زر - یاداستان سام:

دا شخص چه موږ بی دلته بیان کوو دپښتنو په پخوانی تاریخ کښی خورا ځلاندی کارنامی لری اوبونامتو اوغښتلی پالوان دی اوداسی سړی تیرشوی دی چه په هغه زمانه کښی ئی دپښتانه برم خورا ښه خوندی کړی دی، نوموړی دپښتنو پیاوړی پالوان اودهغه عصر یوزبردست عسکرؤ، دی دمهراب باچا په عصر کښی دکابل دسیمی والی اوامیر ؤ،

ددغوسیمو اداره دده پهلاس وه، اوپه جګړو کښې بوستر جګړ مار اونامتو افسرؤ، د پښتنو دهغې زمانې په جګړو کښې په عمومي ډول دمیدان ګټل دده دتوري او ګورز محصول و، لکه چه زمونږ په پخوانی تاریخ کښې هم دغښتلی او زور ور یا لوان په صفت یاد او ستایل شوی دی .

اوپه لحینو وختونو کښې ئې په بست کښې دنوموړی تولواك (مهراب) دوزارت رتبه هم لرله بلکه داوسنی وخت دصدراعظم رتبه یې لرله چه دحکومت تولی چاری دده پرغاړه وی. اوپه دی کار اوداخلی اداره کښې هم یونومیالی سړی تیرشوی او تاریخ ستایلی دی، لکه چه دسیستان دسیمو لیکوالو اوپوهاندو دده دعدالت اوښې اداری ستاینه کړی ده لکه چه زمونږ دسیستان دسیمې بوستر عالم اوادیب علامه (فرخی) چه دغزنو یا نو په اولو وختونو کښې ژوند کاوه دنوموړی (زال زر) ستاینه کړی ده اوپه داسې نامه یې یاد کړی دی چه دده په وخت کښې دمحمود غزنوی چه دشه مشرق په نامه یادشوی دی دمشهور اومعروف وزیر (خواجه ابوعلی حسن میمندی) ښه اداره ئې دزال زر، له ښې اداری سره تشبیه کړی ده وایی: چه حسن میمندی لکه دزال زر غوندی عدالت چلولی دی اودده اداره هم لکه دهغه غوندی ښه وه

فرخی وایی :

چون شه مشرق وزارت را بخواجه باز خواند
بیشتر شغلی گرفت از شغل خواجه بیشتر
عالمانرا باز خواندو مردمانرا بار داد
شوی بازن گشت و زن باشوی و مادر با پسر
خانها آباد گشت و کاخها بر پای شد
باخضر شد بار دیگر باغهای بی خضر
روزگار سیستان را با نیکوئی عدل او
باز نشناسم همی از روزگار (زال زر)
از ولایت سلطان سیستان بر گوشه ایست
نیست از انصاف آن از عدل او نا بهرور

په دې ځای کښې دزال زر، ښیګڼه اوښه اداره دومره لوړه معرفی شوې ده چه دو روستنی عصردښه اداری تشبیه له هغې سره کیږی، اوداسې ښکاره کوی چه دزال زر ښیګڼو دومره شهرت لاره چه خوخوپیږی اوخوخوزمانی وروسته دهغونوم اونښان په تاریخ او د خلکو په خولو کښې پاته دی .

اودنوموړی زال‌زر یاداستان‌سام، دشجاعت اوپیاوړتوب ښه نوم‌هم په‌داسی ډول یاته د چه‌خورا زیاتې‌زمانی وروسته‌هم دضرب‌المثل په‌څیر ادباؤاوپوهانو دهغه‌یادونه کړې‌ده واې:

سیستان خانه مردان جهان است و بدو است
شرف خانه مردان جهان تا محشر
(نیمروز) امروز از خواجه و از گوهر او
بیش از آن دارد (سام، یل و رستم زر)

په لنډه توگه دپښتنو دتولواك مهراب‌اودهغه د پالوان نائب الحکومه، زال زر یا دستان‌سام، معرفی‌اوپیژندنه وشوه‌اوس‌دهغو پیښوبیان کوو، چه په پخوانو زمانو کښی دپښتنو شهامت اوبرم‌ښیې، داپیښی‌په دوه‌ډوله دی‌او دواړی دسلطان مهراب او دهغه د نائب‌الکومه اوپالوان سالاریه‌زمانه کښی پیښی‌شوی په‌دوی او ددوی د وخت په پښتنو پوری‌ربط لری،اودهغو وختونو دپښتنو پیاوړتوب اوتوره مونږ ته‌راښیی.

اوله‌پیښه: هغه‌دهچه دماوراءالنهر دباچاله‌خوا هغه دووعسکری قوماندانانو ته امر کیږی چه‌له‌د یرشو زروعسکرو سره‌دافغانستان پرخاوره باندی‌مارش وکړې‌اودهغه عصر دپښتنو باچامهراب اودهغو خیلواکې له‌منځه‌یوسی، دادوه‌عسکری قوماندانان(شماساس اوخزوران) دی،خود هغوله‌راتګ سره‌سم پښتانه چمتو کیږی اوپه‌خورامیړانه او کلکه سره دهغوې مقابله کوی،اوله خپلی‌خاوری څخه‌یی‌په ډیرذلت اوناکامی سره‌باسی په‌دغو جګړو کښې‌دپښتنو لښکرو ستر مشر «زال‌زر» دی.

افغانستال ته‌دماوراءالنهر دلښکرو راتلل:

فردوسی وایی:

چو دیگر سوی شهر ارمان شدند — بکینه سوی زاولستان (۱) شدند
(شماساس) کزبیش‌چیحون(۲)برفت — سوی سیستان روی بنهاد تفت
(خزوران) اباتیغ (۳)زن سی‌هزار — ز ترکان و شیران خنجر گزار
برفتند بیدار تا (هیرمند) — اباگرز (٤) و با تیغ و تخت بلند
ز بهر پدر زال با سوك (٥) درد — بگور اندر آمد همی دخمه کرد

(۱) زابلستان اوزاولستان دواړه لغتونه راغلی دی.
(۲) دآموسیند پخوانی نوم‌دی. (۳) اباتیغ دباتیغ پخوانی‌رسم‌الخطدی.
(٤) داهم دباگرز پخوانی رسم‌الخط دی. (٥) غم اوغمجنتیا برهان.

په دې وخت کښې چه دغه ترکی لښکری دماوراءالنهر له خوا افغانستان ته راغلې داسې هیبت او شدت یې پرې ایست چه خلك له ژوندانه او پلر و نه له خپلو اولادو نو څخه بیزاره شول او زیات خلك ووژل شول .

به شهر اندرون کرد (مهراب) بود — که روشن روان بود بیخواب بود
فرستاده ای آمد از نزد اوی — به سوی شماساس ینها د روی
به پیش سرا پرده آمد فرود — ز مهراب دادش فراوان درود

په دی مهال کښې چه د شماساس لښکری سیستان ته راغلی مهراب باچا دبست په ښار کښې ؤ او مهراب چه یو بیدار او خورا مدبر پاچاؤ ، نو یې ددغو لښکرو قوماندان شماساس ته استازی ورولیږو ، او دده احترام وسلام یې هغه ته ورساوه ، او په لاندنیې ډول یې هم دغه قوماندان ته ورواستاوه :

که بیدار دل شاه توران سپاه — بماناد تا جاودان با کلاه
ز (ضحاك) تازیست ما را نژاد — بدین پادشاهی نیم سخت شاد
به پیوستگی جان خریدم همی — جز از چاره دیگر ندیدم همی
کنون این سرای نشست من است — همه ز ابلستان بدست من است
از پدر چو دستان بشد سوگوار — ز بهر ستوران (سام) سوار
دلم شادمان شد به تیمار اوی — برانم که هرگز نه بینمش روی
زمان خواهم از نامور پهلوان — بدان تا فرستادم هیونی دمان
یکی مرد بینادل و پرشتاب — فرستم به نزد یك افراسیاب
نشانی فرستم چنان چون سزاست — جز آن نیز هرچ از در پادشاست
مگر کز نهان من آگه شود — سخنهای گوینده کوته شود
گرایدون که گوید به نزد من آی — جز از پیش تختش نباشم بپای
همه پادشاهی سپارم بدوی — همیشه دل امید دارم بدوی
تن پهلوانان نیارم به رنج — فرستمش هرگونه آگنده گنج

په پورتنی ډول سره نوموړی مهراب تولواك شماساس او خزوران ته پرسوله او روغه غوښتلو باندی مشتمله نامه ور ولیږله او ورته ښکاره ئې کړه چه مونږ له تاسی سره جګړه نکوو هرڅه چه تاسی اوستاسی پاچاغواړی هغه مونږ منو که دا وطن غواړی هغه ستاسی دی او که نور شیان غواړی ستاسی دپاچا افراسیاب له خوښی سره سمه به هغه شیان مونږ هغوی ته ولیږو او ور کوو یې .

اویوه اندازه پیسی یی هم دغو قوماندانانو ته ور کړی لکه چه وائی .

زال لیکی :

چو لشکر کشن بود بر هیرمند بد پنار شان پای کردم ببند

نو په داسی تو گه سره مهراب خپل فراست او تعقل په کار واچوه او دا دوه نفره قوماندانان یی آرام کړل او د مهمان نوازۍ لاره ئې ور سره ونیوله او سمدستی یی دهغو له تعرض څخه ځان وژغوره .

او په پټه یی خپل نائب الحکومه پالوان (زال زر) ته استازی او خط واستاوه او ددی مهمې واقعی کیفیت یی ورته ولیکه او په خورا بیړه یی دی دجگړی ډگر ته راوغوښت .

لکه چه وائی :

ازین سو در پهلوانان به بست وزآن سو در چاره یازید دست

نوندی بر افگند نزدیك (زال) که پرنده شو باز کن پرو بال

بدستان بگو آنچه دیدی بکار بگو یش که از آمدن سر مخار

که دو پهلوان آمد ایدر بجنگ زترکان سپاهی چو دشتی پلنگ

کله چه د مهراب له خوا دا اطلاع دستان سام ته ورسیدله نو هغه هم په بیړه را روان شو او خپل پښتانه جگړن یی له ځان سره را روان کړل .

چو بشنید (دستان سام) این پیام بفرسود بر چرم زرین سنام

سوی گرد (مهراب) بنهاد روی همی تاخت با لشکری جنگجوی

نیاسود روز و شب از تاختن چنین تا برآمد بر انجمن

چو مهراب را پای بر جای دید برش اندرون دانش ورای دید

بدل گفت اکنون زلشکر چه باك چه پیشم (خزوران) چه یکمشت خاك

نو کله چه د مهراب له اطلاع رسیدلو سره سم زال زر، را رهی او بست ته را ورسید و یی لیدل چه تر اوسه لا مهراب پرځای او ورته خیردی نو خوشاله شو او ویی ویل چه اوس ما ته خزوران او یومټ خاوره سره برابردی . او نو موږی مهراب ته ئی ډاډ ور کړ او له مهراب سره له لیدلو او مشوری څخه ورسته ئی له راغلی غلیم سره کلکه جگړه شروع کړه چه له زیاتی خونریزۍ څخه وروسته یی خپل دښمن ته ماتی ور کړه او په ډیر فلاکت او د پښیمانۍ په حال کښی ژوندی یی له پښتونخوا څخه ووتل او ډیر یی وژل شوی و و .

(نور بیا)



ښاغلی عبدالشکور «ر شاد» قندهاری د پښتو ټولنې
د ریاست د معاونیت کفیل چه اوس تازه د صالحه
مقـاما تو پـه منظـور ی مقـر رشویدی

په مروت په مدارا کله پوهیږی
پر سر کوزی باندی نه کیږی سواری
چه ئی یار کړه درقیب ناپوهی خو ښه
له «حنا نه» څخه ولاړه هو ښیاری

***

پرسپین مخ جه توری زلفی چین پرچین زدی
بنفشه پر کناره د نسترین زدی
زما په مرگ وژوند داستا چشمان خبردی
څه زما په مرگ وخلقو نه یاسین زدی
چه دی مړ کړم په غمزه دتورو سترگو
نور می ولی لکه مار پرتورو سپین زدی
خال وکیل دی ستا دمخ به خزانه کښی
چه داهسی رنگ پرتخت دخپل جبین زدی
اشنای وشړی له دره رقیب بولی
پر بلبل باندی نو مونه د گلچین زدی
له رقیبه سره درومی زر پیو هیږم
چه له ما سره نن بیا بازی د کین زدی
بیلتانه دی ضعیف کړی دی هر گوره
پر «حنان» دهجر بار ولی سنگین زدی

***

راپسی د استا دغم کر کنده رغړی
چه ئی زه کړم نندارہ ددرست وکړی

مدا من سپلاب دا و ښو یم اخستی
که و بوتی ته لاس کړم له بیخه لوړی

بیا ښامار دجنون خوله کړه را ته واز ه
چه می ولید ې دا ستا زلفی تا و کړی

چه کښېنی پرزړه می کښېنی سل آ ئته
چه پا څېږ ې پا څو ې د لحد مړ ی

دا چه بیا نن مصلحت کړ ې له ر قیبه
په د غه گفتگو ی زړ ه څخه ر غړ ی

عا ر ض شو ی رانه درد د عا شقی د ی
عقل و هو ش شو په د وارا پورې ستړ ی

چه تعر یف دا ستاد خو لې که شکر لبه
د ا گفتا ر د «حنان» خوند کوی د گوړی

* * *

په کتو له ز ا هد ا نړ څخه توا ن و ړی
دمخ خیال ئې له عاشقه خان ومان و ړ ی

په خبر و یه ما نه په نا ز په جو ر
ز ړ ه په هر صو ر ت له ما څخه آ سان وړی

د جنت میو ه ئې مخ کړی له ما هیر ه
بې تکلیفه می زړه سیب د ز نخد ان و ړی

چه می و ه هستې د صبر ا و ښو یو ړ ه
خس وخار له آبا د ی څخه طوفان و ړ ی

خیال به ئې څه یوسی زما له خوار صورته
له خرا به ملکه باج کله سلطان وړی
کې هر څوځنی ساتم نه سا ته کېږ ی
خوب رویان په کرشمه زړه د «حنان» وړی

* * *

زړه می اړد ا ستا د مېنی په جنجا ل د ی
چه روز ګا رمی د د نیاوار ه پا یمال د ی
ښا ئی نن دازما سینه څو ك ر و ضه بو لی
چه یکښې د ګل ر خا نو د مخ خیا ل د ی
ستابې مخه می نه ذ کر شته نه فکر
سرمی کړ ی صد قه ستا د جما ل د ی
د یمن لعل شر مېږ ستا تر لبو
او ترتر ستر ګود ی خجل د چین غزال دي
چه مد ا م ستاد جفا فکر و نه چا نم
له د ې غم می زړه سوری لکه غر بال دی
چه وعد ه می د ې د مر ګ وه پرون کړې
بیا پرځه د ې توقف هومره ا هما ل دی
ستاد غم په د را نه بار آ مو خته شو ی
و «حنان» ته غر په مثل د مثقا ل د ی

* * *

عشق د عقل له تد بیر ه تا ز ه تر شی
چه نمنا ك شی خار ددي صحرا نشترشی

نه وی خوښ صاحب کماله په تشهیر خپل
او به نه که زغ هغه و خت چه گوهر شی
په نامه کی می حال ټول د سوی زړه دی
پرو یر یږم چه قاصد به خاکستر شی
دخط شپه د مخ په ورځ شوه هسی گډه
گمان نه کړم چه ترحشر ه به سهر شي
رانجه کړی می دی ستاد قدم خاوری
گوندی وی چه درد اوښومی احمر شی
چه دخط وصف «حنان» کاږی ښائیږی
له قلمه که ئې توی مشك و عنبر شی

***

هغه څوك چه جام دلبو د دلبر خوری
هم هغه پردا د نیا آب کوثر خوری
چه سیالی کوی له یار د شو خوستر گو
همیشه لکه بادام کنی پر سر خوری
چه ارمان دیار دخولی لری په زړه کښی
دغنچې په شان مدام خون جگر خوری
دل نشین چه ئی شی خیال د بانو گانو
هغه ساعت په زړه باندی خنجر خوری
چه سیاه بخته شی په عشق کښی مقصود مومي
لکه زلفی د زنخ د سیب ثمر خوری

د جفا تاب ئی عاشق ترکو مه راوړی
زهر هر سړی له جوره په قدر خوری
گردا گرد ئې پرخوله خط نه دی «حنانه»
مرچه گان سره ټول شوی دی شکر خوری

* * *

د سپین مخ چه وی خواها نه لکه زلفې
همېشه به وی پریشا نه لکه زلفی
چه هوا د لعلو لبو کړی د ترکو
هغه تل وی اوېزا نه لکه زلفې
که تسخیر د عالم کړې او له مات شی
زړه به یو سې له جها نه لکه زلفې
که یو ځل کړې سیاه بختی د عشق قبوله
بر به خوری له زنخدا نه لکه زلفې
که خواهش رگل رخانو د دیدن کړی
شه د مخ پر اور بریان لکه زلفې
چه غذائې د زړه وینی لکه مشك وی
ځای په غېږ کښی کړی آسا نه لکه زلفې
که دی زړه غواړی چه زړه له خلقو یو سې
تواضع خوی کړه «حنانه» لکه زلفې

* * *

بیا ئی لاس د چاپه وینو کښی رنگین دی
دا شوخ چشم چه فتنه د اهل دین د

خو به گر لحوم په مخ کښې سپر د صبر
چه په لاس کښې ئې نیولی تیغ د کین دی
ستا د زلفې په سود کښې مې زیان نه شته
په تکرار مې پوښتېدلی شا نه بین دی
چه په خیال ئې د مخ نل زارم په وینو
زما له او ښکو ئې کوڅه خلد برین دی
چه یو ښکلی چېرته مو مې زغله وی مې
زړه مې نه دی دا د ښمن پهلو نشین دی
په آئینه کښې چه لحان کوری په غلا کوری
ښا یسته د لبر مې هسې شرمکین دی
پر «حنان» باندی دمشکو باران اوری
چه په خیال کښې ئې دیار خط مشکین دی

* * *

کې په خوله تقریر کومه زبان سوځی
د عشق وړ که پټ ساتم د لو جان سوځی
د گل رخ د اعلو لبو له غیرته
د در یاب په میان کښې ښاخ د مرجان سوځی
چه قد م له نازه کښېږ دی په چمن کښې
له هیبته ئې د حسن گلان سوځی
کې بې او ره چا سوختن لید لی نه دی
د گل رخو د مینې او ر جهان سوځی

که ئې سیل د باران دژړانه وی

درخسار په اورئې زمکه آسمان سوځی

دل سوخته شولاله ستاد مخ له رشکه

همیشه له خپله عقله نادان سوځی .

د وصال بنا دی ئې وکړه رقیبانو

دهجران په اور بوا ځې «حنان» سوځی

* * *

دعاشق وځای نه کله بوالهوس ځی

وڅراغ نه پټ ځی نه چه مګس ځی

په د ریاب کښې دې دغم بیتا دلبره

دحباب په شان مې سم سرو نفس ځی

چه د عشق شعله ئې بله شی په زړه کښې

وسره اورته په د پرشوق لکه قفنس ځی

رخ دهسی خوار عشق سره ابتر کړ

چه په خپل غولی کښې کوزلکه فرس ځی

که رقیب شو ترما پورته عیب نه دی

په د ریاب کښې ګوهر لاندې بر سر خس ځی

هر عاشق چه واصل له نالې پر ېوزی،
تر منزله په فغانو شور جرس ځی
چه جفائې له ګل رخوده لیدلی
دا «حنان» به بیا په ترکو په سی پس ځی

***

د پتنګ په دود چه شمع و ته خوځی
دا په دادی عاشقان شو بځی بځی
په تش دید زړه له سړی ګل رخان یوځی
او رلګېږی له او له په پېلو ځی
د زړه اور به می آسمان ؤ کباب کړی
که ئی له مخه پرده نه وای د اور یځی
چه فیشان دیار د زلفودی په خوښ بم
چه فلک می کړی راتوری د بخت ورځی
د مخ اورئی زما د زړه هډونه وسوه
وچ که لوندوی په ځنګله کښی اورئې سوځی
دمعنی پوښ دعمل په صابون پاك که
ظاهری جا می څه و ینځې په بر وځی
دبوسې داد پر «حنان» کوه نن وخت دی
طمع نه شته دژوندون د سبا ور ځی

* * *

دبهار پر موسم سیل د صحرا دی
هر بلبل په زمزمه د مرحبا دی

زرغون فرش دی د سبزې پر غوړو لی
دهر ګل سایه ئې چتر د همادی
سره قبا ارغوان واغوسته له ذوقه
زرغونه عصا په لاس کښی هر ګیا دی
مجنون بید زلفی دخیا له ځړ ولې
له هوسه سورو ژړ رعنا زیبا دی
څراغان دشګوفی دی په هر باغ کښی
پر هر ښاخ جدا جدا بلبل ګویا دی
صراحی غنچې په غېږ کښی دی اخیستې
لاله جام پر لاس نیولی مهیا دی
د بهار دید له ښه یاره سره ښائی
و «حنان» وته زندان شوچه تنها دی

* * *

مهرویا نو د استا حسن پسند لی
لکه نمرچه پر تمام جهان ختلی
دفلك په آئینه کښی هلال نه دی
دغه ستا دورو ځو عکس ئې ساتلی
له خجلته ستا دستر ګونه دی څه دی
په ګلشن کښی چه نرګس سر ځړ ولی
ستاوز لفو ورخسار ته حیرانېږم
چه په غېږ کښی دی کافر اسلام نیولی

دائې خال نه دی دورو ځو په میان ایښی
دتصویر زاغ دکمان پر موتی کښلی
سنتره که سیب که زنه ده حیران یم
چه په تش آرزوئې روح را څخه تللی
په تعریف دخپل اشنا دمخ دی واړه
چه «حنان» له شوقه دا غزل ویلی

* * *

نورې زلفې چه دی هسی پېچو خم دی
که دسل زړه عاشق دی لا کم دی
سره لبان دی عقیق خراج غواړی
او نرګس دی دواړه سترګې دارم دی
داستا سترګې می لیدلی سبب دادی
غزالان چه مکرره له مارم دی
مرده پاڅی په هوا دا ستا دلبو
عیسی دمه کل دمونه ستا په دم دی
عاقبت به می جهان اوښی طوفان که
ډېری خونې ورانې کړې دغه زیم دی
دا په خپله را ته قهر خشم کاندی
که رقیب در ته ویلی زیا تو کم دی
«حنان» نه دی اوښتونی ستا له لوری
په تاراج ئې رقیبان ځکه خرم دی

ستاد ستر گو معلومېږ ی انسو ن هسی
چه ئی گډ کړه په عالم کښی جنو ن هسی
نوی خط دې هسی چارې په مخ و کړې
چه دښمن پر دښمن نه که شبخو ن هسی
گل رخان دې اعتماد پر حسن نه که
ژرتېر ېږی لکه و رخ دپا رو ن هسی
عرض حال وبار ته سم ویلا ی نه شم
لکه وا ئی فاړ سی ژ به پښتو ن هسی
لکه مورشی پرزوی بوره ډېره ژا ړ ی
هره ستر گه می فرا ق کړه خچو ن هسی
عشق څېره د «حنا ن» ژېړه کړه عا لمه
څېره نه ژېړ و ی تب طا عو ن هسی

* * *

دعا شق پر رقیب نه رو نېږ ی ستر گې
له سا بې څخه ددېو تو رېږ ی ستر گې
په و صلت کښی ئې ومخ ته کتای نه شم
له صفائې پر رخسا ر ښو هېږی ستر گې
ستا د خط کتو ر قیب ځکه ا عمی کړ
وا قعی په ز مر د ړ ند ېږ ی ستر گې
بې اختیار ئې ورخسا ر ته کا ته کېږی
دپتن له شمعی نه پو چېږی ستر گې

چه دغاښ له مرغلرو دې محرومیم
د رودو په شان می تل بهېږی سترګی
دا مژده د کوم دلبر که خبر نه یم
دا چه هسی په تلوار رېږی سترګې
دا په غم کی دې د کوم ګل رخ «حنان»
له ژړلو چه می نه در ېږی سترګی

* * *

د هرچا چه زړه په تورک کل اشنا دی
د هغو د پرېشانۍ سفر په خوا دی
څو آئینه رنګ حیران نه شی په عشق کښی
تر هغو ئې د دیدن طاقت د چاری
چه دتش دیدن طاقت ئې لری څوك دی
د قیامت تر نمر ئې مخ ډېر مصفا دی
له شوخۍ ئې درس د ناز په زړه کښی نه شته
چه هرچین ئې د چین مشق د خندا دی
شوخ چشمان که نه رام کېږی عیب نه دی
له سا یې خپلې آهو ته رم پیدا دی
تنګه خوله ئې په مثال د مېږی سترګې
نه غلط شوم چه مثال ئې نا پیدا دی
نن «حنان» هسی فنا په خیال د ده دی
چه کافور ئې د کفن صبح فردا دی

ناچاری کړم له اشنا یه څخه لرې
چه تل اروم در قیب سړي خبرې
مونږ یه سوی یو زاهده ته پرهیز کړه
عاشقی نه ده تحقیق دی اور د سرې
د ګل رخو په وصال هغه خورسند وی
چه همیش دیار د غم سکر و تی نغرې
د جنت معامله ته کوه زاهده
عاشق نه ګوری په عشق کی نژدې لرې
دعشق درد و هغه چا ته معلومیږی
چه پوخ شوی وی یوار له دغه شرې
چه تعریف دشکر لب دخولې په کاږم
دقلم ترنی می توئی شوې شکرې
«حنان» بیا څه درله ژبی څخه توی کړه
ولی نې رانیسې هیڅوك په کودری

* * *

له زړه کله د خط د حظ هوا ځی
دارودنه دی چه له دې اوره جدا ځی
که می زړه د لبو میل که ښائیږی
د دې میو اثر کله له مینا ځی
که ئې جمع که څوك در دی بې قیمته
پرهر دربا ندې چه او ښی د ګدا ځی

سپور دناز پرسمندووزړه ته ئې و وې
دا د چا د خو نر ېزئ په مد عا ځی
چه یوه ډوډۍ په ګرد جهان قسمت که
لکه نمر تر شر قه غر به په هو ا ځی
که لوړ نوم غواړې ورځه ګوشه نشین شه
قاف ترقافه پو ر ې تل نو م د عنقا ځی
طا قت ستا د فغان نه لر ی «حنا نه»
بلبلا ن چه تل له با غه په غو غا ځی

* * *

دیا ر د ر ته می نفس ځی و ر ا ځی
په کوڅه کښی جو ړ عسس ځی و ر ا ځی
آه می نه لری تا ثیر ر ا ته معلو م شو
ودر ګاه ته دو ا ر س ځی و ر ا ځی
په صحرا کښې دجنون می ز ړ ه بېتا ب
همېشه لکه جر س ځـی و ر ا ځـی
ستا نامه می ر لی و ر کړ ه و قا صد ته
شو ردزړ ه می په هو س ځی و ر ا ځی
که هوا که ر قیب ستا د لبو څه شو
شیر ینی ته هر مګس ځی و ر ا ځی
ستا مذ کور دی په کوڅه وپه بازار کښی
بوی د ګل په هر نفس ځی و ر ا ځی

په نارود «حنان» زړه نه ستړی کېږی
سپور د عشق پرتېز فرس ځی ورا ځی

* * *

هغه زړه چه ستا و زلفو ته مایل وی
پر هغه د بلا فوج محاصل وی
چه منزل اوږ دوی جرس هومره فغان که
له خولې سوی ناری کله دو اصل وی
هر یو زړه چه شی بېد اغه په کار نه دی
چه بې مهره شی برات هغه باطل وی
نوی خط له رخسار ه سره زېب که
ښه آیات کله پر هر کاغذ نازل وی
چه د عشق په لومه بند شی واړه بایلی
که ئې څو ازلس علمه کړی وی فاضل وی
ستا د لب د بوسې دا درا باندی وکړه
رحم ډېر د باد شاها نو پر سائل وی
سخندان به د «حنان» په قال پوهېږی
قند و قرت پر هغه یو دی چه جاهل وی

* * *

څو د قبر په وړو کانو یار نه شی
د حریص زړه به تر هغه قرار نه شی

د حرص مارهسی زهر پکښی توی کړه
چه ئې دفع په تریاق د ګفتار نه شی
د نابودی د نیا حرص تر حیاتېر کړم
چه له ننګه د عالمه ئې عار نه شی
بوی دعیش له حار صه مشکل کار دی
دښورې له ځمکی بوی د ګلذار نه شی
دنیا ګڼه ده له ډېر و پا ته شوې
اشنائی ته ئې هوا د هوښیار نه شی
نفس وخپلی مقتضاته پرېږ ده رام شی
تند توسن څوستړی نه شی قرار نه شی
دا دعا ئې مستجابه کړې مجیبه
چه «حنان» ګډ دحریص په قطار نه شی

* * *

چه می اوښی ستا په مینه کښی قدم دی
له هغه راهسی مل را سره سم دی
بېله تا راته غنچه شی سره سکر و ته
دغه ستا په تنګه خو له زما قسم دی
ستا و ستر ګو ته شوخ چشم حیرا نېږم
چه ئې مړ کړ کل عالم لا وا ئې کم دی
تما شې دسر و نه شم کړای دلبره
چه قامت می ستا له قد دخیا له خم دی

گل ورقی دخپل ځان ور کړې وباد ته
چه ئې لید لی ستاد مخ د خط ر قم د ی
چه به وصف ستا دخولې می شو ندان خلاص کړه
ترسینې می ز یا ته شق اـکه قلم د ی
د «حنان» دستر گوتور که سپین شو بنه شو
ستاد بدن لره داد یدهم نا محرم د ی

* * *

عا شقی ر ا ته یکسا ن کړه نژ د ې لرې
لکه یو د ی یر ر ا ند ه لور ی ژ و ر ې
را ښکا ر ه ئې نه کړ ه هیڅ د لبو لعل
تو یه و م کـه له چشما نو مر غـلر ې
که په خو ب کښې چیرته وصل شم له یـا ره
اوره وی را یـا ندې ژر آسمان تو کر ې
سرې سرې ا و ښې تو یه و م دده خندا ده
وی ورو کی ته یور نگ لعل و کو در ې
زلفې و رو ځی خا ل و خط مصلحتی شو ه
چه ئې زما دمر گ په باب و کړی خبرې
کاروان سرای می شوه سینه دسلو لار ده
چه مد ا م پـر ا ر و ی د غم میسیر ی
د هوا مر غا ن ئې واره په ژرا کړ ه
چه «حنان» وائی دیـار دم سندرې

د عاشق پر زړه اورونه بله وی
د جفا پر کانی زړونه سوله وی
گفت وگوی چه می دمرگ کوی پوهیږم
په دغه بانه می خوشی غوله وی
دائې خال نه دی دحسن په گلشن کښی
لڅ هلك دی حبشی گل ټوله وی
سترگی زړه وړی دخلوت له زاهدانو
په غمزه باغی ملکونه ایله وی
تاخت د چا پرزړه کوی په خبرنه یم
دا چه هسی د ناز آس راز غله وی
رقیبان ئې په خپل وصل سرافراز کړه
پر عاشق د غم بارونه چله وی
په خواری پسی ښادی دوصل شته دی
په «حنان» چه دفراق غم گله وی

* * *

خلاصیت نه مومم له لاسه زه دستر گو
په بلا کړم زه اخته کاته دستر گو
په گلشن کښی ئې فارغ کړم له نرگس
راته جوړه شوه عجب کړده دستر گو
په قیامت بی شهید گونگ وی نه پوهیږم
ور کړه چاداهسی شان رانجه دستر گو

کې هرڅو ځنی ساتې نه ساته کېږی
دلبران مدام وړی زړه تروره د ستر ګو
په باڼوبې پښی مجر و حې شی و ېر ېږم
پر قدم به می وه ایښی خو له د ستر ګو
دښه یار وداع ده ګرانه معلو مېږی
راته ګران نه دی هرګز خاته دستر ګو
که دزړه سلامتی غواړې «حنانه»
پرځان ونیسه واجب ساته دستر ګو

* * *

ستا د مخ دشغلی اوردی
چه ئې سوی زما کوردی
دائی ستر ګی خط ته ګوری
که آهوئی سنبل خوردی
دائی زلفی پر ګردن دی
که افعی پر چندن بلوردی
دائی خال په رخسار نه دی
پر ګل باندی بورا توردی
په ژړامی هسی خاندی
لکه ګل په باران خپوردی
که رقیب له ما څه وائی
دروغ وائی مخ ئې توردی

ستا د ستر ګو له تاثیره
«حنان» هم دمجنون ور وردی

* * *

له نو خطو څخه نه یم صبر کړونی
کله اوړی غل چه ډېرشی لاس غړونی
سر درد د عشق می نه درومی له سره
نصیحت به را تر څو کړی سر تړونی
د ګل رخود هوا په تناره کښی
هسی وسوم لکه سوی اور لړونی
بلبل وړی دخار جفا د ګل دپاره
درقیب به ولی نه یم منت وړونی
په نارومی اوښکی ځی دیارله غمه
بی تناد ژمی ابروی ژړونی
مرحمت بی ولی یار پررقیب نه که
داپه داپرڅښتن ګران وی سپی خوړونی
چه دسوز ژړا «حنان» په لوی سهار که
له دی غمه غنچې څیرې کړ پړونی

* * *

د ښایست له مخه زغلی صد فتنې
څو راوړ مه ور ته تاب زه دسینې

یوساعت مې بې ژړانه دی دوې سترګی
نه پوهېږم چه کار ېږدی که چینی
په سینه کښی می تو لېږ ی ستا غمو نه
لکه جمع شی عالم پر سفینې
ستادمینی کرک په هسی شان رنځور کړم
چه زهوب می مدام درومی له اینې
چه رقیب ستا په درګاه کښی ځای پیدا کړ
زړه و سبزی می وراسته شوه له کینې
د ګل رخ دمخ په اور کښی عیب نه دی
که مې صورت شی تار په تار لکه نینې
په قدر داستاد هجر وصل غواړم
د «حنان» دی پاته شوی مهینې

* * *

چه یو ځل دیار پرز لفو برابر شی
ژر په خپله پریشان هغه خبر شی
کامیابی په حیرانی شی له ګل رخو
آئینې ته مدام وصل میسر شی
چه ئی و وهی امواج د حسن بحر
راسره بېره پر کنار د خط عنبر شی
اضطراب د زړه تر باغ صنوبر باسی
په ګلشن کښی چه قامت ئې جلو ګر شی

خاموشی خوی کړه چه خلاص شې له آفته
دجرس په آواز هر رهزن خبر شی
ددولت اسباب آسمان ونا کس ور که
همای وګوره پروچ هډو کښی ور شی
بې رهبره هیڅ کار نه کېږی «حنانه»
پر هغه کاغذ قلم ځی چه مسطر شی

* * *

سره لبان دیار له خپلو ګویا کېږی
چه غنچه له پاڼو وو ته وا کېږی
سکوت نه کېږی حجاب دعشق دلاری
دمشك بوی په څو پردو کښی رسوا کېږی
وښه حسن ته حاجت د سنګار نه شته
شوخی ستر ګی بې تعلیمه ګویا کېږی
چا چه پر ېکړ تعلق و یار ته رسی
ګرز چه پا ته شی له سېله دریا کېږی
دنو خطو ورخسار ته ډېر مه ګوره
د پسرلی واوره زوال ده پناه کېږی
که په سوزمی یار خوښېږی عیب نه دی
دپتن په سوو دشمع خندا کېږی
دارواح قبض کېده راته آسان دی
نه چه یار له ما «حنانه» جدا کړی

ستا له غمه شورش هسی را پېښېږی
چه په خپله می دستار پر سر خلا صېږی
کی نظر د ښا پېری وشی و مخ ته
ترښېښې به د فلک ناره تېر ېږی
بېلتانه هسی ضعیف کړم گل رخساره
پر حنا باندې که پښه زدم نه ما تېږی
په عوض کښی ئې روح واخله بوسه را کړه
دامتاع پس له څوو رځو ار زا نېږی
څه تعریف ئې کړم د پښو له نزاکته
چه ریزه دښېښې گل ورته ښکار ېږی
بېله ده زه په زړه تنگه له غنچې یم
دی د گل په شان همېش خندان غوړېږی
فکر ډېر دیار د خولې مه کړه «حنا نه»
چه سودا له ډېره فکره پیدا کېږی

* * *

رحمان رحیم دې نوم دی د ځان کړی
له در باره دی هېڅوک نه ځی نیمکړی
تل به وی په دواړو کونو کښی سرخ رویه
څوک چه ستا په عبادت کاندی ځان ستړی
په اسانه به د غم له څاو خیژی
چه په لاس ئې دی د استاد کلام پړی

د غافل داد دنیا لویی بیځاده
لکه باد واخلی اسمان لره خسړی
بهوده د رزق د پاره سر گردان دی
نه رازق د رزق د هرچا پوروړی
دا سوړزړه به د سینې د باندې باسم
ساته نه شی که هرڅو عزیز وی مړی
د «حنان» گناه ور عفوه کړې حنانه
چه ئې نوم ستا د نامه همسایه کړی
پر بتانو مینه کاندی درست وگړی
د یوه یوه په لاس د مجاز پړی
که له نمره څخه باج عواړم ښا ئیږی
ستا له مخه می د حسن زکوة وړی
مهینه می ستا د حسن په دولت کښی
د وې بوسې دی بخت می دا برات راوړی
تن می یو وړ ډیر واو ښو په واك نه یم
له سیلابه سره څکه نیزه وړی
وگل رخو وته گل رنگه محبوب شی
چه ئې داغ لکه لاله له ځان راوړی
ستا د ستر گو په داسرو ناغو پوهیږم
چه شمیر لی یم د وینو پوروړی

زه «حنان» د یار په غم لکه گل وا شوم
که رحمان ؤ دا شنا ی له لا سه ستړی

***

تمر به ولې ستا له مخه نه شرمېږی
چه په هره ورځ راوخېژی بیا لوېږی
چه سپوږمۍ په شپول ځان پټ که سبب دادی
چه د حسن له جفا ؤ دی وېرېږی
ستر گی کله وړی بهر ه له هغه مخه
چه کاته ئې پر رخسار باندی ښوهېږی
دغنچې په دود نازك دی حیرا نېږم
په نسیم د آه می ولی نه نرمېږی
پاڑ را می د جبین غو ته وا نه کړه
ولی غو ته چه لنده شی لا تینگېږی
زه که نه شم گرای خپل گارد بل تمام یم
که څه سم نه دی سو ها ن بل په سمېږی
دادز لفو واری ئې خط تېر گړ «حنانه»
مورو مار پر بو ه ځا ی کله چلیږی
بند ی شوی چه دستر گو په جادو وی
له عا لم ئې تینښته خوی لکه آهوو ی
د ښه مخ جلوه و هغه ته ښکار ېږ ی
چه ئې سرو آئینی ته دزا نو وی

چه خم شوی وی په خیال دیار دستر گو
ځای ئې پورته پرلیمولکه ابرو وی
درد غاښو لعل دلب بې تسلی څوك
چه ئې کاڼی دشبنم گل ترازو وی
د کښرو وروځو تصویر به ئې څوك کږی
کې دتوری جوهر کل قلم دمو وی
چه په خیال دیار دقدد سروی بندشی
دفاختې په دود ئې تل ذکر کوکووی

* * *

هسی نه چه یو عاشق تنها محزون دی
گذران د دې جهان په ځگرخون دی
چه له طمع لاس کوتاه که تل به خوښ وی
په څلور فصله دسرو پوښ زرغون دی
دغفلت گرزپاڅوی د صحرا اوښی
دژوند چرك ته دپیری سفیدی صابون دی
چه ئې کور پر اندازه دخپل بدن وی
مچ مچی په دود ئې تل شیرین ژوندون دی
چه له نفسه سره ښه کړې لا بد ترشی
لېونی سپی د احسان کله ممنون دی
لاس به وانخلی ترمرگه ستاله مینې
په دې جهل کښی «حنان» هغه پښتون دی

تن په زخم دی معمور زړه په غم ښاد دی
ستا د جور په همت اقلیم آباد دی
د نامې دوړو حاجت قاصد ته نه شته
دخپل آه په لاس بې ور کرم کاغذ باد دی
چه وزلفو ته دې لار شانې پیدا کړه
دحیات په او بو لوی مگر شمشاد دی
ستا دقد له شرمه سرو ده ولاړه
دا غلام به کله و تښتی آزاد دی
که تصویر نقاش دا ستاد رخسارو کیښ
آفرین ئې پر قلم باندې استاد دی
کامیابی په عشق کښی هیچا پیدا نه کړه
که مجنون ؤ که وامق ؤ که فرهاد دی
جنت زموږ دی زړه خوشاله کړه «حنانه»
داله پلاره پاته باغ وقف اولاد دی

* * *

ستا بې مخه گلستان راته زندان دی
ستا بې ستر گو نرگس دان راته تېردان دی
شوخ چشمان که چاته سم نه گورې څه شو
نرگس هم سرخړو لی پر بیابان دی
دوصال ښادی هجران کړه له ما هېره
وخفه ته پسر لې فصل خزان دی

خوارسړی چه روزی مومی ځان سلیمان که
پل دژرندې د مېږی تخت روان دی
په وعده دساده لوحو غلط مه شه
د سپوږمۍ به شپه تشخیص د منجم گران دی
مشقت غواړی چه کاڼی ښېښه کېږی
څو زړه ویلی نه شی بیت ترهغه گران دی
پرخاطر ئې هېڅ اثر نه شی «حنانه»
نه پوهېږم زړه ئې کاڼی که سندان دی

* * *

چه پرزړه دزلفو خیال د جانان کښېنی
که رستم دزمانې وی حیران کښېنی
دعاشق د معشوق راز چه سره یو شی
هغه دم ئې ریبارچف که ترمیان کښېنی
په عرق ئې هسی شان شو رخسار نرم
لکه پاڼی چه د گل په باران کښېنی
درد اوښوبې سامان د مهمانۍ کړم
که ئې خیال زما په زړه کښی مهمان کښېنی
چه بې غوښتو پټن طوره ځی مجلس نه
ژر په ژر به پر ایرو دخپل ځان کښېنی
دالفت مرغه له دې گلشنه والوت
چه شبنم دخس وخار پر گریوان کښېنی

که‌ئې قدد سروقدو رشی په خوا کښې
دا «حنان» به‌پاس‌پر بام‌د اسمان کښېنی

* * *

داڅه زلفې څه رخسار او څه ذقن‌دی
څه سنبل اوڅه ګلاب څه نسترن دی
داڅه‌مخ دی داڅه خط دی د ا څه زلفی
څه لاله څه بنفشه څه یاسمن دی
داڅه قددی داڅه سترګی داڅه‌مخ دی
داڅه سروڅه نرګس داڅه ګلشن‌دی
څه سبزه ده‌څه ګلاب دی څه غنچه ده
داڅه خط دی څه عذاردی څه‌دهن دی
څه مژګان دی څه‌ابروده څه کانه دی
داڅه غشی څه‌لنده داڅه زدن دی
داڅه لب دی داڅه‌غاښ دی‌داڅه نازدی
څه مرجان دی څه ګوهردی‌داڅه‌فن‌دی
داڅه بار داڅه «حنان» داڅه‌اغیار دی
داڅه ګل داڅه بلبل داڅه زغن دی

* * *

په‌جفا جفا می زړه له نازران شی
خپلې سترګی بیله نارا نه طوفان شی

دبانو خد نګ دې نه راځی په سیل
که می هډ زرې زرې لکه نښان شی
ستادعشق دریاب ناپایه زه ضعیف یم
و مېږی ته لږ او به لکه عمان شی
چه دې خیال په خاطر راشی مضطرب شم
لکه پیښ چه د مفلس کره مهمان شی
عجب نه ده که له مهره کله راشی
دمېږی کره مېلمه کله سلیمان شی
ترژوندون مرګ ورله به دی په پېغور کښی
اورته ځکه ستی تېره ترخپل ځان شی
کبرجن اشنائي کله غوږ نیسی
که «حنان» فصیح لسان لکه سحبان شی

* * *

ستا و تیغ ته می په زړه لا شنا یی
ورکړه لارګوندې وکړی دوائی
تر الفت د استا دور و ځو قربا نېږم
چه یوموی تر میان نه شته جدائی
ملاقات ته دې حیران یم د مژګانو
چه هر دم سره کوی د لربائی
ستا د زلفو خیال ځنځیر کړراتر غاړه
ځکه اوسم تمام عمر سودائی

ځنځیر نه لو ېږ ی د عشق و هر ې پښې ته
څوتېر نه شی تر مجنو ن په ر سو ا ئی
که عشق پټ عاشق ساتی و ر لر ه ښا ئی
کیمیا گر کله کر ی خو د نما ئی
رقیب بیاڅه ورته وویل حیران یم
له «حنانه» چه کو ی بې پروا ئی

* * *

دا پرمخ با ندې د ز لفو تا ر لو ېد لی
که پر گنج با ندی دطلسم مار لوېدلی
دخد نګ ا ند و ه کا ږ م نه پو هېږ م
چه ئی غشی خطا درومی ښکار لوېدلی
دا خوله پر سپین رخسا ر د گلبدن د ه
که شبنم پرمخ د گل سهار لو ېد لی
دوصال د گل په د ید کله مړ ېږ ی
چه په ستر گو کښې دهجر خار لوېدلی
ته بېکس مل دې د ښمن غل د ربسې د ی
لاس ؤ پښې د ی د ې ختلی بار لوېد لی
په حسا ب د سیمو ز ر و عمر با یلې
غلط مه شه چه نفس په شمار لوېدلی
د « حنا ن » له آه پرهېز کوه دلبره
په سینه کښی ئې دعشق انګار لوېدلی

چه ئې و ینی د خپل ځان خون بهانه شی
د ګل رخ په تېره تېغ به اشنا نه شی
تو رې زلفې بار د زړو نو کله اخلی
څووا ورته در خسار ئې دو تا نه شی
هسی زړه زما سوری کړ د یار هجر
چه دو صل په مسیح ئې د وا نه شی
جذ به می د خوار زړه هسی قوی ده
چه خطا به نځی تیر د بلا نه شی
دتدبیر کښلی څو نه شی ځنی ور که
دامید ددر ګاه قلف به ئې وا نه شی
څوقانع نه شی په څا څکی له دریا به
د صدف حمل به در یکتا نه شی
طمع مه کوه «حنانه» و هېچا ته
چه دهېچا ښه بېخدایه په چا نه شی

* * *

څو به خیال دیار دورو ځو کښی خم نه شی
تر هغو به د مجاز پر لا رسم نه شی
عاشقی د ظاهر علم څله لری
داتر عرشه پورې تله په قدم نه شی
ګذار هسی بې صرفې دی دسیاه چشم
چه زړه سوی ئې پر آهو د حرم نه شی

ښاغلی عبدالصمد:

زه ځم...

ولاړم اما ستا خیال به می هیڅکله له سره ولاړ نه شی.

هو! ولاړم او ترڅو چه ژوندی یم ستر گی به می ستا لوری ته کېږی وی.

ستا په انتظار زما لېوال کتل بی څه نه ډی زما نظر به دی ار ته بیدیا کښی لکه سیند څپی وهی.

دا زما ستر گی دی چه ستا په هوائی خپله ځاله دا وښکو په سیلاو پر یولی ده او ستا څخه ئی تمه ده چه د کسو درنا پر ځای ئی واوسی.

دا زما گرانی او قیمتی اوښکی دی چه ستا دلاری پر خاورو څڅیږی او ستا دمخ د لیدو په تمه به تل تر تله رونی او تودی وی.

ولاړم اما هغی ساختلی تنی ته ورته یم چه د ظلم او زور له لاسه ئی د خپل خوازه ژوندنه لاس اخیستی او د بیلتانه سړی او ترخی خاورو ته ځانه سره وړی.

هغه ځای ته چه فقط دا بدیت تیاره ازانگی پکښی وهی فقط د جنت ملائکی د خوښی او خوشحالی له کړ کیو څخه د غم او ماتم په انگړ کښېوزی او ژاړی.

ژاړی او وائی پر ما رحم وکړی: ما مه بیا یاست زما د مینی، زما د هیلی سره نرمی او مدارا وکړی.

زما زړه مه را ماتوی، زما زړه مه را سوځی زما د وجود تا نسته مه را ټولوی. پر ما رحم وکړی پر ما رحم وکړی.

ولاړم خو زړه می له پښو نه وو خبر او پښی می بی اختیاره د مخه د مخه تلی او هر څه چه د مخه تلی شیبه په شیبه به د بیلتانه په رنځ اخته کیدلی.

پښی می د زړه په اختیار نه وی، مقهوری او مجبوری وی د حوادثو د سیلاو سره ئی هغه لاروهله چه نه پوهېدې و کومی کندی ته ورلویږی د حادثی سیلاو می د شتمنی پر کور را کښته شو، بیخ او بنسټ ئی ورو کیښ چت او نام ئی ونړاوه، زه او زما شتمنی، زه او زما وجود، زه او زما هیلی او ارزو گانی ئی یو ځای یووړی.

ولاړو، سره گډو ډشوو، څو په پای کی مو داوږده او لیری لار په ډېر ور بړونو، په تورو تیارو په ډېر وارمانونو وهغه ځای ته ورسوله چه هلته ډار او وېره وه، هول او وحشت ؤ غم او ویر ؤ اما داسی نه چه خوند بخښونکی وی.

اوښکی وی نه هسی اوښکی چه خوند او کیف دی ولری.

ځکه کوم چه وو.... نه وه.

کوم چه ؤ فراق ؤ !!!.

د پښتو ټولنې تازه خپرونې

۱ : لوړ خیالو نه اوژور فکرونه ـ د کل پاچا الفت اثر یو جلد په (۸) افغانۍ

۲ : داورلمبې د ښاغلی خیبری اثر یوجلد په (۵) افغانۍ

۳ : پښتانه داقبال په نظر کښې د ښاغلی بختانی تدوین یوجلد په (۷) افغانۍ

٤ : منطق د ښاغلی الفت اثر یوجلد په (٦) افغانۍ

٥ : افغان قاموس د ښاغلی عبدالله افغانی نویس اثر یوجلد په (۳۲) افغانۍ

٦ : پښتو نشرونه د محمددین ژواك تدوین یوجلد په (۱۲) افغانی

۷ : پریشانه افکار : د ښاغلی بینوا اثر یو جلد په (۱۰) افغانی

۸ : نړۍ په دوه زرم کال کښې د ښاغلی واسعی ترجمه

۹ : افغان قاموس دوهم ټوك ....

دا کتابونه د پښتو ټولنې په پلورنځی کښې موجود دی .

کابل مجله

دا مجله د پښتو په خواز ، ادب ادبی ننده ماتوی .

دا مجله د پښتنې دنیا د معرفۍ پوازینې وسیله ده.

دا مجله د نیرو او او سنیو پښتنو پرژوند ښه رنا اچوی.

تاسې کولای شئ چه د اتنده په کابل کښې په (٤٠) افغانۍ په د ننه هیواد کښې په (٤٤) افغانۍ په هند کښې په (۱۲) کلدار ی په نورو دباند نیو هیوا د ونو کښې په (۳) دالره ماته کړئ

د ښوونځیو وزده کونکو ته په نیمه بیه .

د نوی کال د اشتراك د پاره په کابل کښې همدغه بیه د پښتو ټولنې د محاسبې مدیریت ته او په ولایاتو کښې د همدی مؤسسی د جاری شمېر (په ۷۸۷۵) لمبر افغانستان بانك ته سپارل کېږی

د ولتی مطبعه